

سلام! زه يو زرږور بلبل يم!
زه لرې ځايونو ته پر سفر او د نړۍ پر ليدلو مين يم!
خو، زه همداسې زرږور دنيا ته نه يم راغلی،
کله چې کوچينی وم له ډېرو شيانو وېرېدم.
راشئ ولولو چې څنګه مې وکولی شول چې پر
خپله وېره برلاسی شم.

پر کوچني بلبل خپله کرمه او نرمه ځاله ډېره ګرانه وه.
ځاله یې خپل خیالي ځای و.
یوه ورځ بلبل خپل ملګرې چې نوم یې ورېښمین وو، مېلمه کړ او ډېر خوندور خواړه یې ورته تیار کړل. کله چې خواړه خلاص شول، ورېښمین وویل:
«له خوندورو خوړو دې مننه، بلبل جانه! ته زما خورا غوره دوست یې»





بلبل یې په ځواب کې وویل: «ته هم زما خورا غوره دوست یې!
ښه شول زما په ځاله کې مو په ګډه خواړه وخوړل. رښتیا!
تر اوسه دې زما تر کوره ښکلې کور لیدلی؟»
ورېښمین موسکا وکړه او هېڅ یې ونه ویل.

 څو ورځې وروسته ورېښمين بلبل ته وويل:
«څنګه ده چې يو ځای بهر ته ووځو او خواړه پيدا کړو؟»
بلبل پوښتنه وکړه: «بهر ته ولاړ شو؟ همدلته زما ځالې ته ډوډۍ نه راوړي؟»





وریښمین او ملګرو یې بلبل راضي کړ، ترڅو یو ځای د باندې ووځي.
دوی یو د بل په مرسته خوندور خواړه پیدا کړل.
وریښمین پوښتنه وکړه، « د دغه ځای توت ډېر خوندور نه دي؟»
خو بلبل وپوښتل: «ستا په نظر زما کور له دغه ځایه څومره لرې دی؟».



د خورو تر ختمېدو وړاندې بلبل وویل: وریښمین،
«په مهربانۍ ما بېرته خپلې ځالې ته بوځه، کورته د بېرته تګ لاره
راته معلومه نه ده.»





کور ته تر رسېدو وروسته بلبل چوکۍ ته راحت تکیه وکړه او ویې
ویل: «هېڅ ځای زما د کور آرامۍ ته نه رسېږي! هېڅکله خپل آرام
او هوسا کور نه پرېږدم».



بله ورځ، وربښمین بلبل ته یو بل وړاندیز وکړ:
«راشه په حوض کې چې دلته نږدې دی، ولامبو!»

بلبل يې په خوب کې وويل: «په حوض کې ډېره ګڼه ګوڼه ده،
زه خپله يو شخصي حوض لرم، دلته وګوره څومره ښکلی حوض دی!»



اونۍ تېرې شوې، بلبل له ځالې نه واته.
تر دې چې يوه ورځ يې ورېښمين ته اعتراف وکړ او ويې ويل:
«افففف...احساس کوم چې دغه کور مې هره ورځ په نظر کې تنګېږي!»



ورېښمين وويل، «يا ښايي ته لوی شوی وې! دلته هوا سړه شوې ده، بايد د هر کال غوندې له نورو مرغانو سره يوې ګرمې سيمې ته ولاړ شو. دلته به يوازې وې او يا به له مور سره ځې؟»
بلبل ځواب ورکړ: «البته چې وم به، له خپل کور سره ډېره مينه لرم!»
ورېښمين وويل: «پسرلی بېرته دلته راځو»





د دوستانو تر تګ څو اونۍ
وروسته، حالت بلبل ته
نور د زغملو نه و.







له ځان سره يې وويل:
«ټول ولاړل او هېڅوک راسره
پاتې نه شو، زه يوازې پاتې يم.
هاتشووو



زه په ورېښمين او ملګرو پسې
مې ډېر زړه تنګی شوی يم».

پر دې سربېره چې بلبل لږ وېرېدلی و، خپل کور یې د دوستانو د لټون په موخه پرېښود. له ځان سره یې وویل: «هیله من یم چې دوستان مې ژر پیدا کړای شم».
بلبل چې په خپلو دوستانو پسې تله، له ځان سره یې وویل: «فکر نه کوم چې ډېر لرې تللي وي، هرومرو یې پیدا کوم او پسرلی بېرته خپل کور ته راګرځم».

بلبل د غونډیو له سره او د درو له منځه تېر شو. په همدغه حال کې یې د کور هوساینه وریادېده. بالاخره یې ورېښمین ومونډ.





او په پای کې،



وربښمین بلبل ته ګرمه شوروا تیاره کړه او ورته ويې ويل،
«موږ ډېر خوښ یو چې ته هم دلته موږ ته راغلې،
زموږ نوي کور ته پخیر راغلې!»

بلبل يې په خواب کې وویل: «زه هم ستاسو په شتون کې د
آرامۍ او هوساينې احساس کوم، ما ته غوره ځای هغه دی چې
کورنۍ او دوستان مو هلته وي!»